مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۳/۰۲/۰۹

# د افغانستان جمهوريت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

## (دويمه برخه)

**د پاکستان منافقت، دوه مخي او غولوونکي لوبه (د القاعدې او طالبانو سپارل امريکايانو ته)**

**«پاکستانيان حاضر دي، د ډالرو په بدل کې خپله مور هم خرڅه کړي.»** (امريکايی سناتور)

کله چې د طالبانو حکومت له منځه ولاړ نو د طالبانو او القاعدې مشران او غړي پاکستان ته واوښتل، دا مهال چې پاکستانيو چاروواکو د القاعدې، عرب جنګياليو ته اړتيا نه درلوده نو پاکستانيانو د القاعدې او طالبانو په تړاو ډېرې ناځوانه او بې ننګه کړنې ترسره کړې او تر پايه يې د خپلو مالي او سياسي ګټو په موخه هر ډول بې ايمانۍ او غداريو ته ملا تړلې وه. پاکستانيو چاروواکو له يوې خوا پخواني جهادي پښتانه قوماندانان له امريکايانو سره همکارۍ او له طالبانو سره جګړې ته هڅول خو له بل پلوه يې د القاعدې او طالب مشرانو سره په سخت حالت کې مرسته کوله چې د امريکايانو هوايي ځواکونو پر القاعدې او طالبانو درنې بمبارۍ رواني ساتلې وې، په ځانګړي توګه هغه لوی، لوی بمونه يې د تورې بورې پر سمڅو (ګورو) وغورځول چې ځايي خلک يې حيران کړي وو، دا مهال له القاعدې او طالبانو سره د پاکستان مرسته د خدای په خاطر نه وه، پاکستانيانو غوښتل دوی په خپل دام کې واچوي او هر وخت چې وغواړي پر امريکايانو يې وپلوري، يا يې ووژني او يا يې په افغانستان کې جګړې ته اړ کړي او ... .

جنرال پروېز مشرف چې هغه مهال د پاکستان يو کودتاچي پوځي ولسمشر ؤ، پاکستان ته د القاعدې په سوونو غړو اوښتل مني او وايي چې «د ۲۰۰۱ز، کال په دسامبر کې د تورې بورې عملياتو له امله پاکستان ته د القاعدې او طالبان ډېر کسان وتښتېدل، ما د هغوی د نيولو په موخه جال خور کړ، د پوځ عادي ځواکونه او د قول اردو پوځيان په چورلکو کې سيمې ته واستول شول، ځکه چې سيمې ته د ځمکې له لارې رسيدل ډېر مشکل وو، موږ له ټول هېواد څخه کچرې راټولې کړې او د انتقالاتو په کندکونو کې مو تنظيم کړې تر څو په دغه غرني او ناسمه سيمه کې له خپلو ځواکونو سره اړيکي ټينګې وساتو.»

جنرال مشرف زياتوي:«د تورې بورې په جال کې (۲۴۰) تنه د القاعدې جنګيالي چې د (۲۶) مختلفو ميليتونو، په ځانګړي توګه د عربي هېوادنو او فغانستان اوسيدونکي وو ونيول شول.» (پروېز مشرف: در خط آتش. مترجم: سيد هارون يونسي. ۴۱۵)

د القاعدې مشران د اسامه بن لادن او ايمن الظواهري په ګډون او په سلګونو غړي په ډاډه زړه د پاکستانيو څارګرو ځواکونو په مرسته له ډيورنډ کرښې واوښتل او هلته په خوندي توګه د دوی تر نظر لاندې ودانيو کې په دې موخه مېشت شول چې کله وغواړي امريکايانو ته په ګوته او ويې پلوري. د پاکستان د دا ډول غداريو، يوه بېلګه د اسامه بن لادن او د هغه له ملګرو سره، د پاکستان ځواکونو او په افغانستان کې د (آی، ايس، آی) پخوانيو جهادي قوماندانانو مرسته او همکاري وه، ځمکني ځواکونه چې د امريکا د (سي، ای، اې) له خوا له ځايي پخوانيو جهادي قوماندانانو تشکيل شوي وو چې مشهور يې حاجي زمان، حضرت علي او حاجي قدير وو او د امريکايانو د ځانګړو ځواکونو استازي هم ورسره مله وو، نوموړو قوماندانانو په سيمه کې د پاکستان په خبر دوه مخی رول ترسره کړ چې له يوې خوا يې له امريکايانو ښه ډېر ډالر ترلاسه کول او له بلې خوا يې د القاعدې مشرانو ته له تورې بورې څخه له ډيورنډ کرښې ها خوا د تېريدلو لار پرانيسته، ښايي جهادي قوماندانانو دا ډول عمل د پاکستان د څارګرو ادارو په غوښتنه کړی وي، يا يې له القاعدې پيسې ترلاسه کړي او يا هم د عقيدې پر بنسټ يې مرسته کړې وي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

دا هم ویل کیږي چې له دغو جهادي قومندانانو یو هم حضرت علي چې یو بې سواده کس دی له پخوا څخه د (سي، ای، ای) په خدمت کې ؤ او دوه میلیونه ډالر یې د یوې میاشتې په اوږدو کې له امریکایي استخباراتو ترلاسه کړي دي، هغه د (ژولت) ټیم چې (جورج) یې مشري کوله او شپه ورځ یې د تورې بورې جګړه په کنټرول کې وه، اسامه بن لادن ته د تېښتې لاره ورکړه. (کریم پیکار پامیر: بررسي وقایع افغانستان از سال۲۰۰۱ تا ۱۴-۲ خورشیدی. ۱۶۶مخ)

له تورې بورې د اسامه او ملګرو د تېښتې په اړه د افغانستان د کورنیو چارو پخواني وزیر علي احمد جلالي په زړه پورې مالومات لیکلي دي چې لوستل یې اړین دی:«پر توره بوره ځمکنی برید د ډسمبر پر ۳مه نېټه پیل او په دوو پړاوونو کې یې انکشاف، په لومړي پړاؤ کې چې یوه اونی یې دوام وکړ، د افغاني ملېشو له خوا له درېیو خواوو برید وشو، یو کس حاجي زمان غمشریک په ختېه پښتون او د مجاهدینو پخوانی قوماندان چې د خوګیانیو د ولسوالی اوسېدونکې ؤ د تورې بورې د لویدیځې نیمایي برخې مسؤل ؤ، هغه د سمڅې د تنګې جنوب ته له لویدیځ لوري ور وړاندې شو، هغه قوت چې د پشه یي توپکسالار او د شمالي ټلوالې د متحد حضرت علي تر امر لاندې ؤ، دنده درلوده چې له مرکز څخه فعالیت وکړي. په همدې حال کې حاجي ظاهر [قدیر] د ننګرهار د شورا د رییس زوی وظیفه درلوده چې ختیځ اړخ ونیسي او نورو مرسته ورسره کوله، د امریکا د ځانګړو ځواکونو ټیمونو د همغږی مرسته کوله او دا غیر مستقیم نظامي فعالیت یې په هوایې ضرباتو حمایه کاوه، په همدې وخت کې واشنګټن له پاکستان څخه غوښتي وو چې ځواکونه پولې ته نږدې کړي او د اسامه د تېښتې مخه ونیسي.» (د افغانستان نظامي تاریخ ژباړن: متقاعد سترجنرال شېر محمد کریمي. ۵۲۷-۵۲۸مخونه)

«د ډیلټا فورس قوماندان ډالټن فیوري، (دا یې اصلي نوم نه دی) هلته واستول شو او په دې وخت کې (C. I. A) په توره بوره کې د اسامه بن لادن موقعیت تثبیت کړی ؤ، ده وړاندیز وکړ چې د اسامه پر مؤقعیت باندې دې د شا له خوا برید وکړي او د ۱۴زره فټه لوړوالي ها خوا چې توره بوره له پاکستان څخه بېلېږي، د اسامه بن لادن پر موقعیت راشي او برید پرې وکړي. د ده دا پلان چا ونه مانه، ده بیا د دې غوښتنه وکړه چې د پاکستان د کورمې په استقامت، په ټولو کندوونو کې د (CATOR) ماینونه وغوځول شي. دا هم رد شوه.

د القاعدې جنګیالیو ته هېڅ کله هم د شا له خوا خطر نه ؤ او دا چې دوی د شا له لوري پسې اخیستل شوي وو او د سپین غره په ډېږو کې مخ پر لوړه ختل د فرار لارې ورته خلاصې وې، پرته له دې چې کله کله به په تصادفي ډول د هوایي ځواک تر ګوزارونو لاندې راتلل، د کندوونو د ترلو لپاره د (CATOR) ماینونو د کاروني نظر د نړېوال ایتلاف د ځینو غړو له خوا رد شوی ؤ.

پاکستان سمه همکاري نه کوله چې د ډیورنډ کرښه د القاعدې د ورتښتېدونکو غړو پر مخ وتړي، له همدې کبله نړېوال ایتلاف پرې باور نه درلود، [القاعدې او طالبانو] وکولای شول په زیات شمېر کې پاکستان ته واوړي ... .» (هماغ کتاب. ۵۲۹مخ)

«نږدې یوه اونۍ وروسته دویم پړاؤ [عملیات] پیل شول چې د بدلون ټکی شو. د ډسمبر پر ۱۲مه حاجي زمان چې فکر یې کاوه القاعده به تر وروستي کس پورې وجنګیږي او د ده کسانو ته به درانه تلفات واړوي، د ځینو دریېمګړو په واسطه د بن لادن له قوماندانانو سره د خبرو لاره جوړه کړه او بیا یې ورسره مخامخ خبرې پیل کړې او هغوی ته یې د ډزبندۍ وړاندیز وکړ، امریکایي ځواکونه پر دې خوابدي شول خو ډېر څه یې نه شول کولی چې مخه یې ونیسي. حضرت علي هم په پټه له القاعدې سره تماس درلود، د القاعدې د جنګیالیو غوښتنه دا وه چې دوی یوازې ملګرو ملتونو ته تسلیمیږي خو افغان لوري ته یې وویل چې وروستي ځواب ته به صبر وکړي.

په جګړه کې دغه تأمل د دې سبب شو چې دوی د تېښتې لپاره تدابیر ونیسي، د امریکا استخباراتي مامورینو دا منلې وه چې په هماغه شپه د القاعدې (۸۰۰) غړي تښتېدلي وو. تر هغې د مخه هم یو شمېر جنګیالي وتلي وو، یو شمېر نور د اسامه په ګډون شا ته پاتې وو. د امریکایي استخباراتو په اټکل اسامه بن لادن د آس پر سپرلۍ د ډسمبر پر ۱۶مه نېټه مستقیماً د غرونو له لارې پاکستان ته اوښتي وو. مرستیالان او ساتونکي یې هم ورسره وو خو نور قوماندانان او مشران یې خواره واره شوي او له بېلابېلو لارو پاکستان ته تللي وو، د جنګیالیو کورنۍ لا د مخه په نومبر او ډسمبر کې وتلي وې او د اسامه بن لادن د کورنۍ په ګډون وختي پاکستان ته رسیدلي وې.

بله ورځ د (ډسمبر ۱۷مه نېټه) افغان ملېشې د تورې بورې وروستۍ بنکر (پوخ سنګر، بلنداژ) ته ورسیدل، هلته د پام وړ څوک نه وو پاتې، ټول مهم کسان تللي وو، یوازې (۲۰) تنه ناروغان اسیر نیول شوي وو، زیات شمېر جنګیالي د افغاني ملېشو قوماندانانو په مرسته د پیسو په بدل کې روغ رمټ وتلي وو، شاوخوا له (۶۰۰ تر ۸۰۰) تنو پورې د پاکستان لوري د پښتنو په بدرګه د امن سیمې ته د سړی په سر د دولس سوه امریکایي ډالرو په بدل کې رسیدلي وو.» (هماغ کتاب.۵۳۰مخ)

پاکستان د امریکا په یارۍ کې هغه مهال له خپل دین او آیین څخه تېر شو چې امریکایانو د ستراتیژیک متحد په توګه، د ترهګرۍ د ځپلو په نوم لس میلیارده ډالر ورکړل، پاکستانیو چارواکو د القاعدې سازمان مهم غړي او د طالبانو لوړپوړي چارواکي پر امریکایانو وپلورل، په دې هکله جنرال مشرف لیکي:«د سپتمبر له ۱۱مې نېټې وروسته په لنډ مهال کې د القاعدې ډېری غړي له افغانستانه تښتیدلي وو او پاکستان ته له پولې اوښتي وو، موږ له دوی سره د پیشو او موږک لوبه پیل کړه ... موږ (۶۸۹) تنه ترهګر ونیول او (۳۶۹) تنه ترهګر مو امریکا ته وسپارل چې له دې درکه مو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په میلیونونه ډالر انعامونه ترلاسه کړي دي، هغوی [افغان چارواکي] چې عادتاً موږ د ترهګرۍ پروړاندې د نه اجرااتو له امله تورنوي، له (سي، ای، ای) څخه دې وپوښتي چې [له دې امله یې] څومره پیسې پاکستان دولت ته ورکړي دي.» (در خط آتش. ۳۷۲مخ)

جنرال مشرف په ویاړ سره وایي چې موږ په سلګونو کسان د ډالرو په بدل کې امریکایانو ته سپارلي دي، پاکستاني چارواکي د خپلو دا ډول دوه مخو کړنو له امله د نړیوالو پر وړاندې سپک او بې پته شوي دي چې یوه بېلګه یې د بلوچستان په کوټه کې د ۳۸ کلن ایمل خان کاسی نیول وو او پر امریکایانو پلورل دي، کاسی پاکستانیو څواکونو په ۱۹۹۷ز، کال کې ونیو او پر امریکایانو وپلورل شو، څه موده وروسته د امریکا په ویرجینیا کې اعدام شو، یو تن امریکایی سناتور چې پاکستاني چارواکي یې ښه پېژندلي وو، امریکا ته د کاسي د سپارلو په هکله وویل:**«پاکستانیان حاضر دي، د ډالرو په بدل کې خپله مور هم خرڅه کړي.»**

ایمل خان کاسی په دې تورن ؤ چې په ۱۹۹۳ز، کال کې د امریکا د (سي، ای، ای) دوه تنه کارکوونکي یې په واشنګټن کې وژلي وو، کاسی پاکستان ته وتښتید، امریکا یې پر سر باندې (۳،۵) میلیونه ډالر جایزه کېښوده.

د طالبانو د امارت له پرځولو وروسته د پاکستان (آی، ایس، آی) ادارې له ټولو وړاندې په اسلام آباد کې د جنرال مشرف په امر د طالبانو د اسلامي امارت سفیر ښاغلی مولوي عبدالسلام ضعیف ونیوه او لاس تړلی یې په ډېرې ناځوانی او غدارۍ سره پر امریکانو وپلوره. د ډېرو مالوماتو لپاره د مولوي عبدالسلام ضعیف کتاب ولولئ: (د ګوانتانامو انځور)

په اسلام آباد کې د طالبانو د حکومت سفیر مُلا عبدالسلام ضعیف له (بي، بي، سي) سره په یوه مرکه کې ویلي وو چې په تېرو څو کلونو کې پاکستان څه باندې (۱۰۰۰) تنه طالبان نیولي چې یو شمېر یې وژل شوي هم دي. (۹ اپریل ۲۰۱۸ز)

د طالبانو په وژل شویو لوړ پوړو چارواکو کې د طالبانو د دفاع وزیر، ملاعبیدالله اخند په ۲۰۰۷ز، کال، د جنوری پر دریمه په بلوچستان کې د پاکستان استخباراتو لخوا ونیول شو او د ۲۰۱۰ز، کال د مارچ میاشتي پر ۵مه نېټه د پاکستان د پوځ او استخباراتو په زندان کې ووژل شو، تر وژل کېدو دوه کاله وروسته د نوموړي کورنی او اسلامي امارت ته یوازې دري انځورونه ورکړل شول چې ملاعبیدالله اخند پر یوه کټ باندې په خپلو کالیو کې پروت دی، زني یې تړلې او مړ شوی دی. (م. نعمت الله – سابق، له لیکني څخه)

د ملا عمر مجاهد د واکمنۍ له ړنګېدو څو میاشتې مخکې ملا رباني په فریب او ټګی سره پاکستان ته وغوښتل شو او د (آی، ایس، آی) له لوري د راولپنډۍ په نظامي قرارګاه کې زنداني شو. رباني په زندان کې د پاکستان هېڅ ډول غوښتنو ته لبیک ونه وایه نو د همدې امله یې د، ۲۰۰۱ز، کال د مارچ د میاشتي پر ۲۶مه د راولپنډۍ د نظامي قرارګاه په روغتون کې وواژه او د سرطان ناروغی په نوم یې کورنۍ ته وسپاره. د رباني د جسد پوسټ مارټم هم ونشو. (صبح کابل ویب پانه: ۱۹ سپتمبر ۲۰۲۰ز. د یحیا یونسی له لیکني څخه)

د طالبانو یو بل مهم قوماندان او د ملا محمد عمر مجاهد مرستیال، ملا عبدالغني برادر د پاکستان په کراچۍ کې د امریکایانو او پاکستانیو استخباراتو په ګډو عملیاتو کې، هغه مهال ونیول شو چې د ملګرو ملتونو په منځ ګړیتوب، افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې رواني وې، په دې اړه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی کای ایډه وایي:«... د خبرو پر مهال په پاکستان کې د ملا عبدالغني برادر نیولو زموږ پروسې ته کلک ګوزار ورکړ، طالب استازي تري تم شول، په دوی کې داسې خلک هم وو چې هڅه یې کوله خبرې اترې خپله بڼه ومومي په ناڅاپي توګه ټولې اړیکې پرې شوې ټیلفونونه بند شول. په دې کې هېڅ شک نه ؤ چې (آی، ایس، آی) د طالبانو نړیوالو او افغان استازو تر منځ د ناستو او اړیکو په اړه بشپړ مالومات درلودل، ماته مالومات راورسیدل چې پاکستانیان د دې خبرو اترو مخه نیسي.» (په افغانستان کې د واک پر سر شخړه. ژباړن: سمیع الله ایلم. ۳۵۰مخ)

د طالبانو لوړپوړي چارواکي چې د پاکستان لخوا ونیول شول، ټول د سولې پلویان او د پاکستاني حکومت یې کرکه کوله، خو هغه طالبان چې ظاهراً یې له پاکستان سره اړیکي ښې وې د هغوی ملاتړ یې وکړ او په افغانستان کې یې د امریکایانو او افغان حکومت پر وړاندې وسله وال کړل.

نېټه:۱۴۰۱/۱۱/۱۹ل. ل
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ